مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ۲۰۲۶/۰۳/۲۱

# زموږ د وختونو پسرلي

زموږ د وختونو پسرلی ښه و، برکت و، مینه وه، یووالی و او هیلې وې. نوروز ته به یوځو ورځې پاتې وې، چې د اسمان لمن کې به توتکۍ راښکاره شوې. دوه ورځې به لمر و ، دوه ورځې وریځ او باران. هوا به نه یخه وه نه توده، ورځې به نه لویې وې نه ډېرې لنډې... هرڅه کې به تعادل او د خوښي احساس و. خلک هم ټول یو بل سره ورونه وو. کرکه، تعصب او بدبیني نه وه. په کلیو کې به بزگرانو یومونه پر اوږه کړل، کروندو ته به وتل، پېغلې به سبوکولو او هوا خوري ته شنو پټیو او نوي شنه شوي چمن ته تللې. په ښار کې به دښوونځیو د پیل ورځې وې، نوې کتابچه، نوې بکس او قلمونه به راته تر ټولو قیمتي او ښایسته سوغات و. جمال مېنه کې به د سخي د زیارت خواته د لوبو سامانونه، زانگوگانې، گیډۍ گیډۍ د غاټول گلان او ایشولې هگۍ پریمانه وې. لویانو به یو بل ته د نوي کال مبارکي ورکوله او موږ ماشومانو به په پسته – نوجنه زمکه او ښکلې هوا کې ښکته- پورته ځغاستل .

اوس چې را یادوم؛ دا د یوې امن نړۍ، د پاک طبیعت، یوبل ته د درناوي، عزت او متقابلومرستود وختونو خاطرات او له حسرت ډکه نوستالیژی ده. هغه ښکلی وخت چې ځومره یې بیان کړم، اوسني ځوانان یې نشي درک کولای دا ځکه؛ اوس زړونه له خیرواو کرکې ډک دي، کلي دوکه مارو، ښارفیسبوکی درواغجنو اومتعصبو او بازار وږیو محستبانو نیولی. دوی یو هم د ښایسته وختونو او د مینې، اخوت، احساس، درناوي او برکتونو په مانا، لغاتو، کیفیت، خاطراتو او نوستالیژی نه پوهیږي او نه باور ورباندې لري .

هغه مهال چې موږ یو خپلواک او ودان هیواد، خوشحاله ښارونه، سمسور کلي او له شور- زوږ ډک گودرونه، بانشاطه خلک او برکتي ختین لوی لوی کندوان لرل، ویالې مو له رڼو اوبو ډکې وې، چې په لپه به موڅښلې، د وطن آسمان شین او پاک و، زړونه بې کینې وو .

د نوي کال په پیل سره به میوه لرونکو ونو غوټۍ وکړې او بیا به ټول کال دباغونو دننه د ونو د میوو خوړل هرچا ته اجازه وه، په باغ کی په چا غږ کول لوی عیب و، مازیگري به طالبانو په وظیفه کې دغوړو پیرکیو دایښودو ځای ندرلود، هغه وخت چې ښاري بسونو مو اییک یوه روپۍ کرایه اخیسته او مکتبی او مکتبیان به په هوس ښونځیو ته تلل. ویره نه وه. د ښونځیو کانتین مو له هر ډول میوو ډک و، دتفریح لس دقیقی د یوې شانزه پولۍ په خوراک تیریدې ښه سوغات کتاب، کتابچه او قلم و،هندوان او سیکان مو د ښار او کلیو گلان وو،د شاببوجان د کوڅې یواځینی یهودبه موږ ته او موږ به هغه ته سلام اچاو، پرته له سلام یې یو ټکی خبره موږ نه وه اوریدلې، پک سر به سهارپه سستو گامونو په کوم لوري روان شو، مازیگر به بېرته گړندی کورته را روان و. د پل خشتي د دیوال اړخ ته فقط تسپې،عطر ، خرما ، جاینماز، قران مجید او سیپار ې هدیه کیدې او د نقاش د جومات ترڅنگ به درمسال او ورسره (هندومکتب) ته کوچنې کوچنې هیندوان او هیندوې ور روانې وې، په سرونو به یې وېښتان منجوله کړي او په یو کوچني ټوکر تړلي و لکه یو غټ پیاز یی چې په سر ایښی وي. له بُتخاک، شیني او بگرامي به کوچي ماما پنیر راوړ، جاده کې به نوروزعلی او قربانعلی ورته ولاړ وو، په غیږ به یې روغبړ وسره وکړ، پوڅه او خېډک به یې ورڅه رانیول په تبنگ به یې کېښودل کوچی ماما ته به یې نغدې وروشمېرلې ...

مازیگر به د پُلخشتي د جومات آذان د آسمایي او شیردورازې ترغرونو انگازې کولې او دا وخت به د ماشین خانې، جنگلک، افغان ترکانې او شاکر چینی سازي کارگران رخصت شول. د ښار له بلې خوا به د مکرویانو د بلاکو د جوړولو، د هوایی بلاکونو د جوړولو کارگر او د خانه سازی اینجنیران رخصت شول. جوماتونو کې به مو له پرتم ډکه روحاني فضا حاکمه وه. دخلکو څېرو کې د ایمان نوربرېښنا کوله ، تواضع، تقوا او خلاص د اخلاقو معیار و. برکتونه وو، وروري وه، تازه گي وه، توتکۍ وې او د غاټول گلونه ...

یو همزولي به د نوروز په سبا د ښوونځي په لومړۍ ورځ دا ترانه ویله:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**توتکی توتکی بهار شو**
**وخت د گل انار شو**

**نجوني ناوکی کوي**
**هلکان مګوبدی کوي...**

بلي همزولي به مو دا ترانه ويله:

**مژده که آمد بهار  سبزه و گل بيشمار**

**آب فراوان به باغ  گشته روان هرکنار**

**غچي و پروانه شد  زنده به بوی بهار**

**بلبل آبی کند  غلغله درجويبار**

**کرده شګوفه به باغ  درخت سيب و انار**

**برلب آب روان  سايۀ بيد وچنار**

**کوکوزنان فاخته  نشسته برشاخسار**

**به شاخ سروبلند  ناله کندزارزار**

**زخانه مور و ملخ  گشته روان سوی کار**

**توهم بدو پشت کار  ای پسر هوشيار**

يو دوران و، لاړ تېر شو. اوس نه هغه نوروز شته، نه هغه مينه او نه هغه برکت، نه هغه درمسال او نه پسر هوشيار، کوچي ماما شهيد شوی، اوبښان يي په بمونو والوتل، رمه يي  لوټ شوه. قربانعلی د ايران مسافر دی، نوروزعلی افشارو کې په ګولی ولګېد، نجوني بنديواني شوې کروندو او چمنو ته نشي وتلای، ګودر ړنګ شو، د بزګرانو کروندي له ماينونو ډکي شوي، د سخی زيارت زولانه شو  ...

آ چي سندره يي کړي وه:  دا دمستو پسرلی دی، هرګلاب يي شرابي شو... هغه بوډا شو، اوس مسافر دی. آ چي سندره يي کړي وه: اګر بهار بيايد ترانه ها خواهم خواند... په ابدي خوب بيده دی، اوسني پسرلي کې مو د بمونو د چاودنو او د باروتو د لوګي له زوره خوب الوتی دی .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ